PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت دویم کال، ۹۳ مه گڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د سلواغه ۲ مه د۱۴۳۲ هـ ق د صفر المظفر ۲۰ مه د۲۰۱۱ م د جنوری ۲۲ مه

درس قرآن

کله چې شپیلی پوه کړی شي نو بیا به خپل منځي تولې اړیکې غوڅې او له یو بل نه به پوښتنه هم نه کوي. په هغه ورځ چې د هر چا تلی درنې شوی نو همغوی بریمن دي. او د چا چې تلی سپکې شوی نو ځانونه یې تاواني، او تل به په جهنم کې پاتې وي، مخونه به یې په اور کې سوځي او تل به چینگ داړی وي. ورته به وویل شي چې آیا پر تاسو زما آیتونه نه وو لوستل شوي چې تاسو به درواغ گڼل.
(سورة المؤمنون: ۱۰۱ - ۱۰۵)

درس حدیث

له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:
په جهنم کې یوه داسې کنده ده چې له هغې نه پخپله جهنم هره ورځ څلور سوه خله پناه غواړي دا کنده د محمد صلی الله علیه وسلم د اُمت ریاکارو خلکو لپاره تیار کړی شوی ده. (مشکواة المصابیح)

ویکي لیکس:

یو امریکایي استخباراتي مامور په افغانستان کې خصوصي جاسوسي اداره جوړه کړې وه

امریکا، رسنی:
نیویارک ټایمز کاږي ،چې دامریکا داستخباراتي ادارې ۷۸ کلن غړی ډوان ار کلاریج ،چې له یادې ځارگرې ادارې سره یې شل کاله دنده تر سره کړې وه وروسته له هغه په افغانستان کې په خصوصي ډول خپلې جاسوسی ته دوام ورکړ، چې په تېره میاشت کې دا مریکا اردو له نوموړي سره خپل ترون پای ته ورساوه.

پاتی ٤ مخ

د حزب اسلامي د ځوانانو ټولنې غونډه وشوه

د تېرې چهارشنبې په ورځ د حزب اسلامي افغانستان د ځوانانو ټولنې یوه غونډه وشوه چې لنډ رپوټ یې د شهادت اوونیزې محترمو لوستونکو ته وړاندې کېږي.

غونډه د حزب اسلامي افغانستان رئیس محترم عبد الهادی "ارغندیوال " د تشریف له راوړو وروسته دډاکترصاحب سیف الدین له خوا دقرانکریم دځو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه بیا دځوانانو د ټولنې مسؤول د ځوانانو ټولنی لاسته راوړنې محترم ارغندیوال صاحب او راغلیو میلمونو ته وړاندی کړی.
محترم استاد حکمت الله "حکمت " داقتصاد وزیر محترم عبدالهادی "ارغندیوال "، محترم مولوی صاحب عطاالله "لودین " او راغلیو میلمنو ته ښه راغلاست وویل او د ځوانانو ټولنی لاسته راوړنی یې په لاندی ډول وړاندی کړی:
۱- دځوانانو ټولنه دځپل کار له پیل څخه تراوسه په دی توانیدلی ده هغه ځوانان چې په مرکز او ولایاتو کی دمختلفو لاملونو له کبله دحزب اسلامی دفعالیت نه ناخبره وو او یا هم د ځینو معاذیرو له کبله نشو کولی چی دحزب اسلامی تر بیرغ لاندی سره راټول شی سره هماهنگ اومنسجم کړی.
۲- دځوانانو ټولنه په دی توانیدلی چې د کابل په ټولو پوهنتونو لکه مرکزی پوهنتون، پولی تخنیک پوهنتون، طبی پوهنتون، تعلیم اوتربیه پوهنتون، ددعوت پوهنتون اوهمدارنگه په نیمه عالی تحصیلی موسساتو اوشخصی پوهنتونو کی په عموی ډول اوپه خاصه توگه په هرپوهنځی کی نماینده گان وټاکی
۳- دځوانانو ټولنه دځپل فعالیت نه را پدی خوا پدی توانیدلی ده څو مهمی غونډی لکه دلوی خیمی غونډه اوداسی نوری لوی اووړی غونډی په ځانگړی توگه درياست جمهوری اوپارلمانی انتخاباتو په وخت کی تنظیم کړی.
۴- دځوانانو ټولنه دځپل فعالیت په اوږدو کی په دی توانیدلی چی مختلفو ولایاتونو ته سفر وکړي او دځوانانو له مشکلاتو نه ځان خبر او ترځپله وسه له هغوی سره مرسته اوهمکاري وکړي.
۵- دځوانانو ټولنه پدی توانیدلی ترڅو دحزب اسلامی یو تعداد هغو ځوانانو ته چی له پوهنتونو څخه فارغ شوي دي دندې پیدا کړي.

پاتی ٤ مخ

ناټو به په مارچ کې اعلان وکړي چې اول د کوم ولایت امنیت افغانانو ته سپاري

ناټو به د مارچ په میاشت کې پرېکړه وکړي چې لومړی د افغانستان د کوم ولایت مسؤولیت افغان امنیتي ځواکونو ته وسپاري.
دا به له افغانستانه د ناټو ترمشری لاندې ځواکونو د وتلو د ستراتیژۍ لپاره حساس گام وي.
د ناټو عمومي منشي اندرس فوگ راسموسن د دوشنبې په ورځ وویل چې د افغانستان ملي شورا باید مخکې تر دې چې د امنیتي چارو د سپارلو پروسه پیلېږي، په کار پیل وکړي.

پاتی ٤ مخ

ناټو ځواکونو په غزني کې څلور زره ونې وهلي

کرزي ویلي چې بهرني پوځیان باید د ونو له وهلو لاس واخلي ځکه چې دا کارد افغانستان د خلکو د شتمنیو پرضد جنایت دی.
د ناټو یوه ویاند سنسیټ بلینسکي وویل چې دوی د ولسمشر کرزي له لوري له لګول شوي توره خبر دي او هڅه کوي چې موضوع مالومه کړي.
د غزني ولایت د پولیسو قوماندان زړورخان زاهد وویل چې ده ته هم د ولسمشری له دفتره په دې باب ټېلفون شوی وو خو د سیمې خلکو ورته څه نه دي ویلي.
د غزني د ولایتي شورا رییس عزیزالله پویا بیا وایي چې ده ته کلیوالو شکایت
د افغانستان ولسمشرحامد کرزي د ناټو ترمشری لاندې ځواکونه په دې وغندل چې په غزني ولایت کې یې شاوخوا څلور زره ونې وهلي او خلکو او چاپېریال ته یې زیان اړولی دی.
د ولسمشر کرزي دفتر وایي چې د راپورونو له مخې بهرنیو پوځیانو په وروستیو ورځو کې د غزني ولایت خاني بابا او بند سردې ترمنځ سیمه کې له درې تر څلور زره ونې وهلي دي.

پاتی ٤ مخ

چگونه رسانه ها در دوطرف مرز با پخش واقعیت ها نقش شان را ایفا کنند

رادیوی آزادی:
ده ها تن از خبرنگار افغان عمدتاً از مناطق سرحدی این کشور و ژورنالیستان ایالت خیبر پشتونخواه پاکستان از روز دوشنبه در یک کنفرانس دو روزه در کابل شرکت کرده اند و روی این مساله به بحث می پردازند که رسانه های دو کشور چگونه بتوانند در زمینه تامین صلح و ثبات در مناطق مرزی و تفاهم میان دو طرف سرحد با پخش واقعیت ها نقش شان را ایفا کنند.
این کنفرانس از سوی نهاد میدیوتیک به همکاری مالی وزارت خارجه آلمان ترتیب داده شده است و برگزار کننده گان و اشتراک کننده گان آن ابراز امیدواری نموده اند که این نشست در راستای تقویت

بقیه در صفحه ۴

چې څه کرو هغه به رېبو

دویم مخ

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

درېیم مخ

په نشو اخته ماشومان په زیاتېدو دي

په افغانستان کې چې د نړۍ په کچه مخدره مواد په کې زیات تولیدېږي، د بل هر وخت په پرتله په کې د نشه یي موادو کارول زیات شوي دي، چې په ځینو سیمو کې

ماشومان هم په دې بلا اخته شوي دي. اکثرو ماشومانو ته د مشرانو له لوري دغه مواد ورکول کېږي.
د بلخ ولایت په گڼهون په گڼو نورو شمالي سیمو کې د اپیمو کارول په یوه کلتوري عنعنه بدله شوې، چې تقریباً ټول خلک نشه یي مواد کاروي.
د امریکا سي، این، این تلویزیون په شمال کې د عزیزې په نامه د یوې مېرمنې کور انځور کړ، چې ټوله کورنۍ یې په نشو اخته ده او اپیم کاروي. عزیزه څلور کلن زوی

پاتی ٤ مخ

افغانستان ته د لوړ پوړو امریکایي چارواکو د راتگ څرگند پیغام

درېیم مخ

امریکایي پوځیانو کې ځان وژنه زیاته شوې

په امریکایي پوځیانو کې د دویم کال په مخه د ځانوژنې پېښې زیاتې شوې دي. اکثره یې هغه عسکر دي چې افغانستان او عراق ته د جگړې لپاره لېږل کېږي. په دې اړه جان ډانیللي په کانگرس ډاټ اورگ ویبسایټ کې یوه لیکنه خپره کړې ده.
د دغو ځانوژنو علت پېچلی او ارقام نامعلوم دي. هغه ارقام چې په امریکا کې د پوځي خدماتو د ادارې له لوري تېره اوونی خپاره شوي، ښيي چې په ۲۰۱۰م کال کې د ځانوژنې دغه پېښې زیاتې وې.
په راپور کې راغلي چې ۴۳۴ ځانوژنې د دندې پر مهال د پرسونل له لوري شوي، په ۲۰۰۹م کال کې ۳۸۱ نورو کسانو د پوځي دندې پر مهال ځانونه وژلي دي.
په ۲۰۱۰م کال کې دغه ارقام ۴۶۲ ته پورته شوي، چې په حربي عسکرو کې دغه پېښې شوې دي. ځینو کسانو په تصادفي ډول ځانونه وژلي او ځینو نورو د ناروغیو له کبله.
د تېرې اوونۍ په راپور کې هغه ستونزې څرگندې شوي، چې امریکایي پوځ ورسره مخامخ دی، خو د امریکا د پوځي خدماتو اداره دغه ارقام په ښکاره نه اعلانوي او علاقه

پاتی ٤ مخ

ترکیب پارلمان جدید افغانستان بر اساس یک تحقیق

گران افغانستان:
مرکز مطالعات ستراتیژیک کابل نتایج تحقیقات خود درباره ترکیب جدید پارلمان افغانستان را از لحاظ سهم اقوام و احزاب این کشور منتشر کرد. بر اساس تحقیق انجام شده از سوي مرکز مطالعات پارلماني مرکز مطالعات ستراتیژیک کابل، در این انتخابات طرفداران دولت موفقیت چنداني براي ورود به پارلمان نداشته اند، در حالي که ائتلاف "تغییر و امید" به رهبری "عبدالله عبدالله" که اپوزیسیون دولت افغانستان است ادعاي اشغال ۹۰ کرسی را دارد.

بر اساس تحقیق این مرکز مطالعاتي، "حزب اسلامي" که ریاست آن را "عبدالهادي ارغندیوال" به عهده دارد، ۱۶ فیصد از کل اعضای پارلمان یا به عبارت دیگر ۴۱ کرسی را به خود اختصاص داده است. نتیجه تحقیق این مرکز نشان مي‌دهد که ۱۴ تن از اعضاي حزب "جمعیت اسلامي" به پارلمان راه یافته اند.
بر اساس این منبع، حزب "وحدت اسلامي مردم افغانستان" به رهبري "محمد محقق" توانسته است که هشت کرسي پارلمان را به خود اختصاص دهد و حزب "وحدت اسلامي افغانستان" به رهبري "کریم خلیلي" فقط پنج کرسي را به خود اختصاص داده است. نتیجه

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

که اختصاصي محکمه ناقانونه ده؛ نو بیا کوم یوه محکمه قانوني ده؟

کله چې د ولسي جرګې د ټاکنو پایلې اعلان شوې نو ډېرو وکیلانو تور ولګاو چې په ټاکنو کې درغلی شوي دي. هغوی د ستري محکمې دروازه وټکوله چې ددغو درغلیو د سپیناوی او حقدارو ته د حق د سپارلو لپاره دې یوه ځانګړی محکمه جوړه کړي. دې لپاره چې د معترضو کاندیدانو تورونه وڅېړل شي ستره محکمه قانوني مسؤولیت درلود چې د هغوی دا غوښتنه ومني او یوه ځانګړی محکمه جوړه کړي.

ستره محکمه د هېواد هغه وروستی او آخري مرجعه ده چې د هېوادوالو د دعوو او دنګلو آخري پرېکړه پکې صادرېږي بیا دهغې د پرېکړې په خلاف هېڅوک دا حق نلري چې سرغړونه ترې وکړي او یایې هم چلنج کړي. داسې هېڅ هېواد نشته چې هلته د سترې محکمې پرېکړه او فیصله ونه منل شي بلکې له ولسمشر نه نیولې د هېواد عادي فرد پورې مکلف دی چې د سترې محکمې په وړاندې د تسلیمی غاړه کېږدي.

د لاندې محکمو د قاضیانو فیصله چیلنج او د وروستی فیصلې لپاره سترې محمکې ته وړل کېدلی شي مګر د سترې محکمې فیصله په هېڅ حالت کې نشي چلنج کیدلی.

د سترې محکمې د جوړېدو اصل حکمت همدا دی چې هغه په ټولو اختلافي مسایلو کې خپل نهایي پرېکړه واوروي او نافذالعمل شي. که چېرته پرېکړه یې ونه منل شي او پرخلاف یې سرغړونه وشي نو ددې لازمي معنی او نتیجه به دا وي چې په هېواد کې د بغاوت او خودسری سرې لمبې پورته او هر لوری به د زورواکانو واک چلیږي، په داسې حال کې چې د سترې محمکې د جوړېدو مقصد د زورواکانو او خودسریو مخه نیول دي. هغه بریالي کاندیدان چې د سترې محکمې له خوا جوړه شوی اختصاصي محکمه ناقانونه بلي او دهغې پریکړې ته غاړه نه ږدي نو هغوی دې لږ غوندې ددې خبرې ځواب هم ورکړي چې بیا هغه معترض کاندیدان چې پخپل حق کې د شویو درغلیو سپیناوې غواړي چاته رجوع وکړي؟ ایا لدې پرته بله کومه داسې نهایي مرجعه شته چې ورته رجوع وکړي او خپل حق ترېنه وغواړي؟ !

آیا دا به ظلم نه وي چې یو څوک دې لدېنه بند کړی شي چې د حق دترلاسه کولو یا د تور او سپین ترمنځ د فرق د معلومولو لپاره د سترې محکمې دروازه وټکوي؟ ایا دا به بې انصافي نه وي چې ستره محکمه د متخاصمو لوریو د دعوو د سپیناوی او څېړنی لپاره له ګام اوچتولو څخه منع کړی شي؟

په قانون کې د هېواد هر وګړي ته دا حق ورکول شوې چې د سترې محکمې دروازه وټکوي او د خپلو ستونزو او جنجالونو د سپیناوي لپاره دهغې نهایي پرېکړه ومني.

دا چې د معترضو کاندیدانو د اعتراضونو د څېړلو سپاره سترې محکمې ځانګړې محکمه جوړه کړې او معترض کاندیدان دهغې د پرېکړې منلو ته هم چمتو دي نو د ځینو بریالیو کاندیدانو له خوا د ځانګړی محکمې د پرېکړو نه منل او یا هم د سترې محمکې له خوا اختصاصي محکمې ته ناقانونه ویل پخپله له قانون څخه سرغړونه او ستر جرم دی که الله مکړه هر څوک د سترې محکمې په څیر آخري مرجعه ونه مني او دهغه پریکړو ته ناقانونه ووایي نو بیا به داسې کوم قانوني مرجع وي چې د هېوادوالو د شکایتونو او دعوو د حل و فصل لپاره ګام پورته کړي او هغوی له خپل منځي جګړو او وینې تویونو نه وژغوري؟ ! د قانون نه منل او دهغه په خلاف د بغاوت بیرغ پورته کول لدې پرته بل هېڅ ګټه نه لري چې هېواد د لاقانونیت په ځنګل بدل شي او هر څوک به هغه څه کوي چې زړه یې غواړي، نتیجتاً د هېواد استحکام او امن به تالا ترغه کېږي او زورواکان به د کمزورو وګړو وینې زبیښي.

ښه به دا وي چې د هېواد په ټولو قضایاو کې د زړه له تل نه د سترې محکمې د پرېکړو احترام، او فیصلې یې په ورینه تندی ومنل شي د قانون منل او دهغه حاکمول د متعهدو او مهذبو قومونو دنده او مسؤولیت دی، په همدې کې زموږ د هېواد ګټه او زموږ د روښان مستقبل ضمانت دی.

نه ښایي د خپلو ذاتي ګټو لپاره د خپل هېواد مجموعي ګټې قربان او په دې توګه خپل حال او راتلونکی په تورو تیارو بدل کړی شي.

چې څه کرو هغه به ریبو

احمد شاه وحدت
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

محمد خلیل

په نړۍ کې هغه ولسونه د عزت ژوند تېرولې شي چې له خپلې خاورې، ولس قانون، کلتور او تهذیب سره مینه لري او د سر په بیه دهغه دفاع کوي.

د افغانستان مسلمان ولس چې ظاهراً له خپل دین او خاورې سره د وفادارۍ سینه ډبوي خو په عملي ډګر کې دومره وروسته پاتې دي چې د ژوند ټول اړخونه یې ځپلي او متأثره کړي دي، د ژوند داسې یو څانګه یې روغه نه ده پاتې چې وربانـدې حساب وکړی شي او په جېګو سترګو وویل شي چې افغانانو لږ تر لږه په دې څانګه کې بې اصولي نه دی کړی. کیدلې شي چې ډېر افغانان زما له دې فکر سره د نظر یووالي ونه لري او زما دا وینا خپل توهین وګڼي خو که واقعیت ته وکتل شي نو لدېنه هېڅ انکار نشي کېدلي چې افغانان له خپل دین، خاورې، قانون او کلتور سره د عملي مینې په ترسره کولو کې هېڅ راز معقول دلیل او ثبوت نه شي وړاندې کولی، بلکې ددوی کړنې د ښکاره لمر په څېر په دې خبره ګواهي ورکوي چې دوی د خپل مسؤولیت په ترسره کولو کې په بشپړ ډول پاتې راغلي دي که چېرته افغانانو خپل دیني، ملي او افغاني مسؤولیت ترسره کړی وای نو بیا به دداسې حالت د راتلو امکان نه و پیدا شوې چې له ډېرې اوږدې مودې راهیسې ورسره لاس او ګریوان دي.

دا د الله تعالی فطري قانون دی چې د هېچا خواري او زیار نه ضایع کوي څه چې کوي دهغه صله او حاصل ضرور ورته ورکوي، د فطرت په قانون کې داسې چېرته نه دي شوي چې د ګلونو کښت کوونکی ته د اغزي بوټي زرغون شوي وي او یا هم د اغزی کښت کوونکي ته دې د ګلونو بوټي شنه شوي وي بلکې هغه څه ترلاسه کوي چې څه یې کرلي وي.

دا چې افغانان د څو لسیزو راهیسې له یو عالـم کړاوونو او اندېښنو سره لاس او ګریوان دي او لدېنه د خلاصون پر ځای نور هم پکې ډوبیږي ددې یواځینې لازمي علت همدا دی چې افغانان پخپل لاس ځانو ته د کړاوونو او اندېښنو تخمونه کري.

دا ډېره د ناپوهی او بې مسؤولیتی خبره ده چې موږ د خپل پړه د منلو پر ځای تل پر بل چا د تنقید غشي وروو او د هرې خبرې مسؤولیت او ملامتي پر بل چا اچوو. آخر داسې یوولس به څنګه د برې او نجات درشل ته ورسیږي چې کله هم خپلو مسؤولیتونو ته پاملرنه نه کوي او هر کار ماشومانو په څېر په بشپړ بې پروایی ترسره کوي؟

موږ بې روحه کاڼي بوټي نه یو چې د ښه او بد ترمنځ توپیر ونشو کړای بلکې د نورو انسانانو په څېر عقل او بصیرت لرونکې مخلوق یو، د نورو انسانانو په څېر مکلف یو چې خپل انسانـي مسؤولیت وپیژنو، ټول ځمکني حقایق ومنو، د پرمختګ او هوسا ژوند د تېرولو اصول رعایت کړو، د عدل او انصاف د قیام بنسټیزې لارښوونې پر ځان تطبیق کړو او له هغو ټولو کړنو څخه په کلکه ډډه وکړو چې زموږ په تاوان تمامیږي.

موږ باید دې واقعیت ته غاړه کېږدو چې مسایل پخپلو منځو کې پر یو بل د پړه اچولو او چالاکیونه حل کېږي که بالفرض حل کیدای نو تراوسه به حل شوي وو او موږ به د جنجالونو په ګرداب کې ډوب نه وو.

لوړ پوړیو چارواکو تراوسه ولس په دې نه دی قانع کړې چې هغوی پخپله هم په فساد کې ککړ نه دي او نورو ته هم په فساد کې د ککړېدو فرصت نه ده ورکړی بلکې دهغوی ټوله کړه وړه په دې خبره ګواهي ورکوي چې پخپله هم د فساد لاره نیولې او نورو ته هم د فساد لاره پرانیستي ده، که چېرته د لوړ پوړو چارواکو لمنه د فساد له تور داغ څخه پاکه پاتې شوي وای او هغوی عملاً د ولس په وړاندې خپل تقوی ثابته کړی وای نو په دولتي او نادولتي ادارو کې به د فساد او بډې اخیستنی خړ سیلاب نه و راغلی دغه راز که چېرته د سیاسي ګوندونو مشرانو پخپلو منځونو کې د خپل دین، هېواد او ولس ګټې په نظر کې نیولو سره یوه متفقه لایحه او کړنلاره خپل ولس ته وړاندې کړې وای نو د هېوادوالو ترمنځ د نفاق او کرکې دا تورې وریځې به نه وې ښکاره شوي، که چېرته هر چا د قانون په عملي کولو او له هغه نه د سرغړونې جرأت نه وای کړی نو په هېواد کې به د لاقانونیت پوښتنه نه پیدا کېده، که چېرته د دوست او دښمن په پېژندلو کې چې څوک دوست دی او څوک دښمن یو صحیح او اتفاقي فیصله شوې وای نو بیا به دا مشکل نه و پاتې شوې چې ولس د خپل دوست او دښمن په پېژندلو کې غلطي وکړي او د یو بل په خلاف ودریږي، له بده مرغه زموږ یوه مشکل او مسأله داسې نه ده پاتې چې اختلاف او پخپلو کې د یو بل د پرځولو او ملامتولو کوښښ مو نه وي کړې.

ښکاره خبره ده چې کله یو ولس یوه څرګنده کړنلاره او نقشه پرمخ نه لري، د مسؤولیت احساس نه پیژني، د قانون احترام نه کوي، په هر څه کې خپل زر زور او خوښه چلوي هغوی کله هم د عزت، وقار، خوشالی او امن مزه نه شي څکلې. که موږ واقعاً د نړۍ په سر له وقاره ډک او پرمختللي ژوند تیرول غواړو نو په لومړی ګام کې دې د افغانستان حکومت، سیاسي ګوندونه او مجموعه کې ټول ولس دی د نورو د ملامتولو پر ځای پخپل ګریوان کې سرښکته کړی او خپل دیني او ملي مسؤولیت وپیژني، یوه سالمه کړنلاره خپله او خپل ټول مشکلات د مسؤولیت په ترسره کولو سره له منځه یوسي، که نه نو هغه ورځ لیری نه ده چې خپل ټول معنوي او مادي ځواک به له لاسه ورکوو او د پردیو د غلامی کچکولونه به په غاړه ګرځوو.

الله دې نه کړي

افغانستان ته د لوړ پوړو امریکایي چارواکو د راتګ څرګند پیغام

عبدالله "کامه وال"

د امریکا د ولسمشر مرستیال جوبایډن تېره اوونی په یو نااعلان شوي سفر کابل ته راغې، جوبایډن په کابل کې د ولسمشر حامد کرزي او نورو دولتي چارواکو سره لیده کاته وکړه د امریکایي چارواکو راتګ په دې شپو ورځو کې زیات شوي تر دې وړاندې هم د سناء د مجلس



یو لوړ پوړي پلاوي افغانستان ته راغلي وه تر دې وړاندې پخپله د امریکا ولسمشر اوباما هم په یو نااعلان شوي او نابېره توګه افغانستان ته راغې خو د ولسمشری ماڼې پر ځای سېده د امریکایي فوځونو لوی اډې بګرام ته ولاړ او هلته یې د خپلو فوځونو سره تر کتنې وروسته مخ پر امریکا شو او زموږ پر چارواکو یې سلام قدرې هم وانه چوو دا چې دا موضع زړه او په خپل وخت پرې لیکنې او بحثونه شوي، زه نه غواړم دلته پرې څه ووایم، زه دلته د وروستیو امریکایي پلاو پر څرګندونو غواړم خبرې وکړم.

وروستیو دواړو لوړ پوړو پلاوو جوبایډن او د سناء د مجلس اعضاؤ نظر یو وه جوبایډن د ولسمشر کرزي سره د لیدنې پر وخت وویل چې امریکا به د ۲۰۱۴ کال وروسته هم په افغانستان کې حضور ولري او تر هغې به له افغانستانه ونه وځي تر څو پخپله افغانان یې د وتو وړاندیزونه کړي.

لدې خبرې معلومېږي چې امریکا له ۲۰۱۴ کاله وروسته هم دلته د پاتې کېدو نیت لري او د اوباما دا اعلان چې تر ۲۰۱۴ کاله به د امریکا ټول فوځونه له افغانستانه وځي او ټولې فوځي چارې به افغان ملي اردو او ملي پولیسو ته سپاري لکه د نورو وعدو په څېر دا هم یوه خبره وه چې هم زموږ چارواکی او هم افغان ولس لدې ډول قوو سره بلد دي.

د افغانانو پوښتنه داده هغه مهال چې دې نړیوال اشر ګړو زموږ پر پاکه خاوره زموږ په بې ګناه مظلوم او تش لاسي ولس برید کاوه او د خپلې درنې وسلې یې ازمایلې هغه مهال یې له افغانانو پوښتلي وه چې آیا ستاسو خوښه ده چې موږ ستاسو په هېواد کې د یوې نوی لوبې پیل کوو چې ګټه به موږ وړو او تاوان به یې تاسو ورکوی. چې اوس یې د وتلو پر مهال غواړی افغانان خو له پیله ددې جګړې سره همغږی نه و، د تاریخ په اوږدو کې هېڅ وخت داسې نه دي شوي چې افغانانو پردو ته د افغانستان د اشغال بلنه ورکړې وي بلکې تل یې د بهرنیو یرغلګرو پر وړاندې مبارزه کړې او د خپلو سرونو په نذرانه کولو یې هېواد د پردو له یرغله ساتلي د وخت هر متجاوز د خپلو ګټو لپاره ددې خاورې د نیولو او ددې ولس د ایل کولو نیت کړی خو افغان مجاهد او پر خاوره مین ولس یې دا ارمان د خاورو سره خاورې کړي، نن ورځ چې کوم حالت پدې ولس تېرېږي دا هم د زغم نه دي زموږ ولس د امریکا او نړیوالو اشر ګړو د زور ظلم او نا انساني کړو وړو تر پوزې راغلي هره ورځ ددې سوله ساتي فوځ له لوري وژل کېږي کورونه یې ورانېږي ددوی پر کلتور او عنعناتو ملنډې وهل کېږي، داسې ورځ نه ده پېښه شوې چې د هېواد په یو ګوټ کې مظلومو هېوادوالو د دوی د ظلم او تېرې پر وړاندې چغې نه وي وهلی، سر کونو ته نه وي راوتلي او د خپلو شهیدانو جنازې خپلو چاربې واکو مخې ته وي ایښې.

دا ډول پېښې یوازې تر ولایاتو پاتې نه شوې بلکې په پلازمینې کې هم خلکو د بهرنیو فوځونو پرخلاف لاریونونه وکړه او د افغانستانه یې ددوی د وتو غوښتنه کوي اوس زه نه پوهېږم چې د ښاغلي جوبایډن

مطلب کوم افغانان دي که منظور یې عام افغانان وي خو د عام ولس غوښتنه خو اوس په تاوتریخوالی اوښتې دا د مخالفینو لیکې ورځ تر بله ولې غښتلی کېږي، ولې د مرکزي حکومت د واک ساحه ورځ تر بلې محدودېږي دا ټولې نړیوالې ټولنې د نهو کلو په موده کومې اساسي لاسته راوړنی لري چې د افغان ولس په ګټه وي ایا القاعده او ترهګر کم شو که زیات دیموکراسي پلی او تقویه شوه که بدنامه، د نشه یي توکو پر ضد مبارزه پیاوړی شوه او که مافیایي اداري فساد ورک شو او که لاپې جرړې خورې شوی د عام ولس ژوند خوندي شو او که شته کورونه یې هم وران شول؟!

څرګنده خبره ده چې ددغو ټولو پوښتنو ځواب منفي دی، که چېرته حالات د پخوا په څېر روان وي او افغانان د ظلم او ناخوالو په ژرنده کې دل کېږي نو د ټولو افغانانو جدي غوښتنه داده چې امریکا یې او ناټو غړي هېوادو پوځیان دې په افغانستان کې د پاتې کېدو پر ځای خپلو خپلو هېوادو ته لاړ شي ځکه چې افغانان نور د زغم او صبر حوصله له لاسه ورکړی او نشي کولې چې د پردیو پوځیانو په لاس تر اوږدې مودې پورې ځاني او مالي تاوان وزغمي.

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(درېیمه برخه)

س۳۷: د مسلمانانو لومړی شهید په بدر کې څوک و؟

ځ: مهجع د عمر ابن الخطاب ازاد شوی غلام و.

س۳۸: په بدر کې د انصارو لومړی شهید څوک و؟

ځ: حارثه دسراقه ځوی، دبنی نجار دقبیلې په بدر کې دانصارو لومړی شهید و.

س۳۹: د بدر په غزا کې د قریشو د زخمیانونه څوک لومړی مکی ته راغی؟

ځ: الحسیمان عبد الله الخزاعي ځوي.

ابن اسحاق وایي: لومړی شخص چې د بدر په غزا کې زخمی شوی و او مکی ته راغی الحسیمان د عبد الله الخزاعی ځوی و، خلکو ورته وویل خیر خو دی؟ هغه و ویل: عتبه د ربیعه ځوي، شیبه د ربیعه ځوي، د حکم پلار د هشام ځوي، أمیه د خلف ځوي، زمعه د الاسود ځوي، نبیه او منبه د حجاج ځامن او د بحتري پلار د هشام ځوی و وژل شول، کله چې الحسیمان د قریشو د مشرانو دا نومونه یاد کړل، نو صفوان د أمیه ځوی یو څنګ ته ناست و ویی ویل: دا خبره عقل نه مني، تاسي تري زما په هکله پوښتنه وکړی، ورته ویی ویل: او صفوان د أمیه ځوی څه وکړل؟ هغه و ویل: هغه دی ناست دی، او قسم دی ما یې پلار او ورور ولیدل چې و وژل شول. د ابی رافع په حدیث کې راغلي چې کله د بدر د زخمیانو خبر راغی —الله دې د ابو لهب لاسونه وچ کړی او الله دې یې وشرموي— ودرید او پښیې ځان پسې راښکودلې تر څو کښیناست، دی ناست و چې خلکو و ویل هغه دی د سفیان پلار حارث د عبد المطلب ځوی راغی، ابو لهب ورته و ویل: زما څنګ ته راشه قسم دی چې له تا سره څه خبره شته، نو راغی او ور سره کښیناست، خلک ولاړ وو، ور ویی ویل: ای وراره ما خبر کړه د خلکو څه حال وو؟ هغه و ویل: قسم دی چې یو قوم راسره مخامخ شو او ولې مو سره ور کړل داسې جنګ یې را سره وکړو چې څنګه یې خوښه وه، او قسم دی چې دوي لا تللي نه وو چې نور سپین سرې مو ولیدل په بر ګو اسونو سپاره وو هیڅ یې مخه نه شوه نیولی. ابو رافع چې د عباس غلام ځوان هلک و په دی وخت کې اسلام زمونږ په زړه کې ځای نیولی و، په دی خبر زیات خوشاله شوو ما و ویل: قسم دی چې دا ملایکې دي، ابو لهب زه یوه کلکه څپېړه و وهلم، نو د عباس میرمنې یو لرګی راپورته کړو او ابو لهب یې په سر وواهه، او ورته ویې ویل: چې بادار یې نشته او د اوو ورځو وروسته د طاعون په مرض آخته شو، زامن ترینه لرې شول تر څو مړ شو، بیا دري ورځې مړ پروت و څوک نږدې نه ورتلل او نه چا خخولو، بیا یې د پېغور له وېرې ورته کنده و ویستله او په لرګو یې ور تېلواهه، او د لرې نه یې د تیږو لاندې پټ کړو.

س ۴۰: د جنګ په هکله لومړی آیت کوم و چې نازل شو؟

ځ: د جنګ په هکله لومړی آیت د حج د سورې ۳۷ آیت دی.

س ۴۱: څوک د لمانځه د ادا کولو نه بغیر جنت ته داخل شو؟

ځ: عمرو د ثابت ځوي، لقب یې أصیرم و، اسلام یې نه منلو د أحد د غزا په ورځ الله پاک د ده په زړه کې اسلام ننویست، مسلمان شو، خپله توره یې راواخسته او نبي علیه السلام ته یې ځان ورسولو، سخت جنګ یې وکړ، زخمی شو، کله چې جنګ خلاص شو، خلک د خپلو مړو پسې ګرځیدل، أصیرم یې ولیدو زخمی و، تعجب یې وکړو چې دی له کومه راغی! مونږ چې راتلو دی خو لا کافر و، وروسته یې تری پوښتنه وکړه چې ته څه شی دی ځای ته راوستی؟ اسلام دي غوره کړی که د قوم مینه؟ هغه و ویل: اسلام مې غوره کړی، په الله او د الله په رسول می ایمان راوړ بیامي پیغمبر علیه السلام ته ځان ورسولو یو ځای مي د هغه سره د الله په لار کی جنګ وکړ او زخمی شوم، وروسته د زخم له اثره مړ شو بیا خکلو پیغمبر علیه السلام ته د هغه قصه و کړه پیغمبر علیه السلام د هغه د جنتیتوب تایید وکړ، نو بیا به ویل کیدل: داسې سړی و چې جنت ته داخل شو او لمونځ یې نه و کړی.

س۴۲: د عربو په جزیره کې کوم دولت لومړی جوړ شوی؟

ځ: د لومړی ځل لپاره د عربو په جزیره کی اسلامی دولت جوړ شوی دی.

س۴۳: د پیغمبر علیه السلام لومړی معجزه څه وه؟

ځ: قرآن کریم د پیغمبر علیه السلام لومړی معجزه وه.

س۴۴: بیت المال چا د لومړي ځل لپاره جوړ کړ؟

ځ: عمر رضی الله عنه لومړنی شخص و چې بیت المال یې جوړ کړ.

س۴۵: د مشر کانو پر ضد لومړی جنګ کوم و؟

ځ: د بدر جنګ د مشر کانو پر ضد لومړی جنګ و.

س ۴۶: د بدر د غزا په ورځ پیغمبر علیه السلام چاته لومړی د کامیابی زیری ور کړ؟

ځ: ابو بکر صدیق رضی الله عنه ته.

س۴۷: هغه څوک و چې پیغمبر علیه السلام ته یې د غوښتني پرته مشوره ور کړه؟

ځ: خباب د منذر ځوي. د بدر غزا په ورځ پیغمبر علیه السلام د بدریانو سره د مدیني خواته نږدی کښیناست، خباب ورته و ویل: ای د الله رسوله! دلته ناسته دی وحي ده او که نه دا ستا خپل نظر دی؟ پیغمبر علیه السلام و فرمایل: دا زما نظر دی، خباب و ویل: ای د الله رسوله دا ځای ښه نه دی، مونږ باید د دښمن خواته نږدې شوو او اوبه پری بندي کړو، د جنګ په وخت کی به مونږ اوبه څکو او هغوي به د څکلو اوبه نه لری، پیغمبر علیه السلام د خباب خبره و منله او هماغسی یې و کړل.

س۴۸: بدر غزا ته د تلو لپاره چا لومړی پیغمبر علیه السلام ته په مطلقه توګه مشوره و کړه؟

ځ: ابو بکر صدیق رضی الله عنه.

(نور بیا)

شهادت اوونيزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه

د امتياز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدير: عبدالله کامه وال

مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

داريکي شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ايميل:

shahadatnews_kabul@yahoo.com

ديزاين: خواجه وحيدالله

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر

سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

د حزب اسلامي د ځوانانو ...

۶- پدى ورستيو کی دځوانانو ټولنه پدې توانيدلې چې په ټول افغانستان کی دحزب اسلامی لپاره ديتابيس جوړ کړي. تر څو وکولی شی دحزب اسلامی ټول افراد معلوم اوراجستر کړي، په خاصه توگه دځوانانو دلا ښه انسجام اوهماهنگ کولو لپاره ډېر کمک وکړي، ددې ابتکار دعملي کولو لپاره دفرهنگي کميټی مسول محترم محمد عابد لنداک "گمارل شوې دی.

۷- دځوانانو ټولنه پدی وروستيو کی په دی توانيدلی تر څو دقلم ټولنه (انجمن قلم) په نامه يوه ټولنه جوړه کړی تر څو هغه ځوانان چی کولی شی ښه، مفيد او علمي مضمونونه وليکی له دغې ټولنې سره مرسته وکړی او دشهادت ورځپاڼې دبډاينې سبب وگرځي ددې کار دترسره کولو لپاره دځوانانو ټولنې مشاور محترم استاد فضل الباری "ممتاز" ته مسؤوليت سپارل شويدی.

۸- دځوانانو ټولنې دشهادت د اوونېزې د لا ښه توزيع لپاره محترم انجينرصاحب محمد عمر "شيرزاد" ته دنده ورکړه چې دشهادت اوونېزه دولتي اوغيردولتي ارگانونو کې توزيع کړي.

دځوانانو ټولنې دمنشي په بلنه محترم ارغنديوال له حمد او ثنا وروسته دځوانانو لاسته راوړنې وستايلې او توصيه يې ورته وکړه چې خپل اسلامي رسالت په سمه توگه ترسره او د اسلام او خاورې دښمنانو ټولې دسيسې شنډې کړي.

مولوی صاحب عطاالله "لودين" هم په خپل وار دځوانانو ټولنې لاسته راوړنې وستايلې اودخپلوخبروپه اوږدو کی يې ځوانان خپل مسوليت ته متوجه کړل، زياته يې کړه چې په اوسني حالاتو کې دځوانانو مسؤوليت له بل هروخت نه زيات شوې دی ځکه چې غربی نړۍ پر افغانانو لاديني ديموکراسي مسلط کول غواړي په داسې حال کې چې غربي ديموکراسي زموږ د شريعت اودينی معتقداتو په خلاف ده نو داد ځوانانو مسؤوليت دی چی ددغسی بی معنی اوپوچی ديموکراسی مخه د اسلام د سپېڅلی دين په رڼا کې ونيسي اوددين اووطن دښمنان پرېنږدي چې خپلو شومو اهدافو ته ورسيږی.

دغونډی په پای کی دځوانانو ټولنی منشی دځوانانو په استازيتوب د حزب اسلامي رئيس له څېنو هغو اړتياو او ضرورتونو څخه هم خبر کړ چې ورسره لاس او گرېوان دي.

محترم ارغنديوال د هغوی غوښتنې په پوره غور واورېدلې او ژمنه يې ورسره وکړه چې ستاسې د اړتياو د پوره کولو لپاره به له هر ډول مرستو څخه دريغ ونکړي.

غونډه دمازديگر په څلورو بجو دمحترم مولوی صاحب عطاالله "لودين" په دعايه پای ته ورسيده.

يو امريکايي استخباراتي مامور په ...

سرچينه زياتوي ده يوه خصوصي څارگره کمپنی جوړه کړه چې له خپل کور دسان ډياگو څخه يې اداره کوله.

ورځپاڼه کاږي چې نوموړي جاسوس په افغانستان کې بېلابېل جاسوسان لرل او له هغوي څخه به يې د طالب جنگياليو او په کابل کې دسياستوالو په اړه معلومات راټولول.

سرچينه ليکي کلاريج دايران د کونترا په پېښه کې په ناسم راپور ورکولو او درواغو ويلو مجرم پيژندل شوې و، چې وروسته بيا وبښل شو د راپور له مخې کلاريج هڅه کوله، چې دولسمشر کرزي ورور احمد ولي خان بدنام کړي او خپل جاسوسان يې گومارلي و څو په دې اړه معلومات راټول کړي، چې گويا حامد کرزی په هيروينو روږدی دی.

دويکيليکس دمعلوماتو له مخې کلاريج دحقيقتونو، خيالي راپورونو دامريکا اردو، رسنيو، ليکوالو او شنونکو په ځانگړې توگه امريکايي تلويزونو ته دا معلومات استول.

دخپاره شوې راپور پر مټ دامريکا پوځيانو به خپل هوايي بريدونه او عمليات دکلاريج دمعلوماتو پر بنسټ تر سره کول کلاريج تر ۲۰۱۰ ز پورې دجنرال مک کرنان له دندې تر گوښه کولو پورې په افغانستان کې له امريکايي سرتېرو سره په افغانستان کې قرارداد درلود.

ناټو به په مارچ کې اعلان وکړي ...

د ناټو سرمنشي په بروکسل کې خبريالانو ته وويل: "په پسرلي کې به، چې افغان امنيتي ځواکونو ته د افغانستان د لومړني ولايت د امنيتي چارو د سپارلو اعلان کېږي، يو نوى پړاو پيل شي."

افغان ځواکونو ته د خپل هيواد د امنيتي چارو سپارنه د ولسمشر بارک اوباما د حکومت لپاره هم د يوه مهم پړاو پيلامه ده ځکه چې امريکايي پوځيان د روان ۲۰۱۱ کال له جولايه له افغانستانه په وتلو پيل کوي.

افغان ځواکونو ته د افغانستان د امنيتي چارو د سپارلو پرېکړه د تېر کال په نومبر کې په ليزبون کې د ناټو په سرمشريزه کې وشوه. د ناټو مشرانو همداراز وپتېيله چې د ۲۰۱۴ کال ترپايه به د ټول افغانستان امنيتي چارې افغان ځواکونو ته ورله غاړې کړي او د ناټو ترمشرۍ لاندې پوځيان به نور جنگي رول نه لري.

تر دې مخکې په پام کې وه چې ناټو ځواکونه د افغانستان په ارامو ولايتونو کې د امنيتي چارو مسووليت افغان ځواکونو ته په ۲۰۱۰ کال کې وسپاري خو هغو سيمو ته چې پخوا پکې سخت دريځو نفوذ نه درلود، د جگړې د لمن له غځېدو سره دا نېټه شاته وغورځول شوه.

راسموسن همداراز وويل: "تېر کال موږ په سختو جگړو سره تغير راوست.اوس موږ ته پکار ده چې د دغو بدلونو دوام يقيني کړو."

د ناټو ترمشرۍ لاندې ځواکونو او افغان پوځيانو د تېر کال په وروستيو مياشتو کې د کندهار ښار په شاو خوا او درو ولسواليو کې د طالبانو پرضد پراخ عمليات وکړل او دا سيمې يې تصفيه کړې خو داسې وېره شته چې دا سيمې به تر ډېره وخته ونه ساتل شي.

راسموسن وويل: "موږ جاج اخيستی دی او له خان سره مو فيصله کړې چې د امنيتي چارو د سپارلو لړۍ د مارچ په مياشت کې پيل کړو."

د ناټو قومندانانو ويلي چې د دوی ځواکونه به د طالبانو پر ضد عملياتو ته دوام ورکړي او اټکل کوي چې نورې سختې جگړې به وشي.

ناټو اوس په افغانستان کې تر يولکو څلوېښت زره زيات عسکر لري چې په درو کې دوه برخې يې امريکايان دي.

د افغانستان د امنيتي ځواکونو شمېر حاضردمه دوه لکه شپږ پنځوس زرو ته رسېږي خو تمه ده چې د سږ کال ترپايه پورې درو لکو ته ورسېږي.

ناټو ځواکونو په غزني کې ...

کرې چې د ناټو ځواکونو د دوی ونې وهلي دي.

تر دې مخکې د ولسمشر کرزي له لوري يوه گومارل شوې پلاوي په کندهار کې د خپلو تحقيقاتو په لړ کې مالومه کړې وه چې د دغه ولايت د درو ولسواليو اوسېدونکو ته ناټو ځواکونو په خپلو عملياتو کې تر سل مليون ډالرو زيات زيان اړولی دی.

افغانستان د نړۍ والو رسنيو په هنداره کې

په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو له خوا د ملکي وگړو استوگنځايونه په نخښه کول او يوې افغانۍ نجلۍ په اړه د يو امريکايي سرتيري له خوا ناول ليکل د نړيوالو ورځپاڼو سرليکونه جوړوي، چې وايي ولې نړيوال ځواکونه افغان وگړي ځوروي، کورونه يې ويجاړوي او بيا ېږته تاوان ورېرې کوي؟

د انگلستان چاپ ټايمز ورځپاڼې په خپله وروستۍ گڼه کې د افغانستان په اړه يو مطلب خپور کړی، چې په پيل کې يې راغلي دي، امريکايي سرتېري په افغانستان کې د استوگنې د هغو کورونو او کله ناکله د کليو د ويجاړولو له نوي، لانجمن تکتيک څخه کار اخلي، چې د دوی په گومان طالبانو ماينونه په کې ځای پرځای کړي دي.

ورځپاڼه ليکي، دا تکتيک چې له تېرو څو مياشتو راهيسې پيل شوی د بشري حقونو په ډلو او حتی په څېنو هغو سرتېرو کې چې په دې عملياتو کې برخه لري، يولړ اندېښنې رامېنځ ته کړې دي.

دا پلان چې په افغانستان کې د امريکا او ناټو عمومي قوماندان جنرال ډېوډ پټرويس په تېره دسمبر مياشت کې تصويب کړ له هغو اصولو سره په تناقض کې دی، چې ده د نړيوالو ځواکونو د اجرااتو لپاره تېر کال برابر کړی و. په دې اصولو کې يو دا و، چې له افغانانو او د هغوی له ملکيتونو سره بايد په درناوي چلند وشي.

ټايمز ليکي، د نړيوالو ځواکونو د دې عملياتو له وجې ښايي د سلگونو افغانانو کورونو ته چې په اکثرو کې يې گڼ کسان ژوند کوي زيان اوښتی وي.

ټايمز زياتوي، د دې ورانيو کچې داسې اندېښنې رامنځ ته کړې، چې ناټو ښايي د خلکو د زړونو او ذهنيتونو د خپلولو پرځای هغه له لاسه ورکړي.

ورځپاڼه د جگړې د بېگناه قربانيانو د ټولنې د يوې فعالې سارا-هو ليوينسکي له قوله ليکي، چې وايي، د افغانانو کورنۍ د وسله والو او پوځيانو ترمنځ په جگړه کې گير پاتې دي.

نوموړې وايي، دا خلک خپل کورونه د وسله والو له لاسه پرېږدي او نړيوال ځواکونه يې بيا الوزوي. د جگړې د بېگناه قربانيانو ټولنه د ورانو کورونو د اندازې د معلومولو په برخه کې څېړنې کوي.

مېرمن هوليوينسکي وايي، پوځي برياوو ته له پاملرنې پرته دا ملکي وگړي دي، چې اصلي زيان وراړوي. نوموړې زياتوي، که څه هم دې کورنيو ته د دوی د کورونو د ورانولو تاوان ورکول کېږي، خو دا کار دې پوښتنې ته چې ايا دومره زيات تخريب ته په رښتياهم اړتيا وه کنه، ځواب نشي ورکولای.

ټايمز ورځپاڼه د ساراهوليوينسکي له قوله وړاندې زياتوي چې وايي، پوښتنه دا ده چې ملکي خلک څه وکړي؟ دا وايي، دوی هرې خوا ته چې مخ اړوي په زيان کې دي.

لاس انجلس ټايمز:

لاس انجلس ټايمز ورځپاڼې د هغه امريکايي سرتېري په اړه يو مطلب خپور کړی، چې له يوې افغانۍ پېغلې څخه په الهام سره يې د خارو له تله په نوم يو ناول ليکلی.

ورځپاڼه ليکي، ترنټ ريډي دا پېغله هغه مهال وليده چې دی په افغانستان کې په خدمت بوخت و. د دې ديارلس کلنې نجلۍ شونډه شلېدلې وه او غاښ يې له مېنځه راوتلی و. د دې سرتېري په وينا د يادې شوې نجلۍ پاسنۍ شونډه دوه ټوټې وه او د پوزې ښه يې هم بدله شوې وه.

ريډي لاس انجلس ټايمز ته ويلي دي، چې لومړی ځل د زليخا په نوم د دې پېغلې په ليدو سره ده سخت ټکان خوړلی و او دا همغه نجلۍ وه چې وروسته يې بيا ده ته د ده د ناول د مرکزي کرکټر الهام ورکړ.

د خاورو له تله له زليخا سره د مرستې لپاره د ترنټ ريډي د ژوند د حقيقي پېښو په استناد ليکل شوی ناول دی. ده غوښتل چې له زليخا سره د هغې د مخ د پلاستيک جراحي په برخه کې مرسته وکړي.

د ورځپاڼې په وينا دا ناول ډېر ښکلی دی، نه په دې خاطر چې داسې ليکوال ليکلی، چې دا يې لومړی ليکنه ده، بلکې له دې کبله چې کيسه د زليخا له خولې روايت شوې ده.

لاس انجلس ټايمز ليکي، د يوه بهرني کلتور په اړه ليکل ډېر گران کار دی، خو ترهغه گران کار بيا د يوې ښځې له نظره ليکل دي.

د امريکا د ايووا ايالت اوسېدونکی ترنټ ريډي کله چې ۲۶ کلن و، هغه مهال د زليخا په اړه د دې ناول ليکل پيل کړل، چې د ده اړونده پوځي قطعه په فراه ولايت کې ځای پرځای شوه.

ريډي لاس انجلس ټايمز ورځپاڼې ته ويلي، د زليخا پرمخ د پلاستيک جراحي له عملياتو وروسته، هغه مهال چې دا له پوځي اډې څخه وته. ده ژمنه ورسره وکړه چې کيسه به يې حتماً ليکي.

دا امريکايی سرتېری د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کال ترمينځ د ديارلسو مياشتو لپاره په افغانستان کې پاتې شو. دی وايي، د دې کيسې ليکل د ده لپار داسې يوه دنده وه، چې بايد ترسره کړې يې وای.

لاس انجلس ټايمز د مطلب په وروستۍ برخه کې د ريډي له قوله ليکي چې وايي، د ده لپاره دا چې د دې ناول ليکل به څومره وخت واخلي او د آيووا د يوه اوسېدونکي په لاس د دې داستان ليکل به څومره بې مفهومه کار وي هېڅ مهمه نه وه.

ناټو ځواکونو د کندهار د عملياتو په ترځ کې نه يوازې د خلکو په سلگونو کورونه ونړول بلکې د هغوی درمندونه او د مېوو باغونه يې هم له منځه يووړل.

ناټو او د کندهار ولايتي مقاماتو د دغه پلاوي ادعا رد کړه.

ويل کېږي چې د کندهار مقاماتو ښايي له دې وېرې چې بيا د امريکايي مطبوعاتو له لوري په قاچاق او بدماشۍ تورن نه شي، د گومارل شوي پلاوي د تحقيقاتو پايله رد کړه.

کرزی نن سبا د لوېديځوالو له لوري ترفشار لاندې دی چې د انتخاباتو د کميسون له لوري بريالي اعلان شوي کانديدان ومني.

لوېديځوال گومان کوي چې دا کسان به له يوې خوا پر کرزي د فشار لپاره کاروي او له بلې خوا به د دوی له لوري د ملکيانو پر مړگ ژوبلو سترگې پټوي.ځکه چې په بريالیو اعلان شويو کانديدانو کې د هغو سيمو استازي په نشت برابر دي چې بمباری پرې کېږي او يا يې ونې وهل کېږي.

چگونه رسانه ها در دوطرف ...

انعکاس آنچه در مناطق مرزی وابسته به اين دو کشور می گذرد موثر واقع شود. حميد خاخی مسول نهاد ميديو تيک در مورد هدف کنفرانس رسانه ها و تفاهم دو طرف سرحد افغانستان و پاکستان توضيحات بيشتر ارايه کرد.

او گفت: "اين کنفرانس در شرايط امروز، تشويق و ترغيب کارکنان و فعالين رسانه ها بخاطر تبليغ و ترويج فرهنگ صلح و آنچه که شايعات است و آنچه که ملت ها را بخصوص ساکنين دو طرف مرز را به جان هم انداخته اند و دستخوش حوادث، ترور و وحشت شده اند، اين ها بايد روی کارکرد های درست و اساس ژورناليستيکی بخاطر ايجاد يک ميکانيزم انتقال تجارب و انتقال معلومات درست، از مناطق مختلف گرد هم آمده اند."

در اين کنفرانس سيزده تن از خبرنگاران برجسته يی ايالت خيبر پشتونخواه پاکستان حضور دارند. اين نشست در حالی برگزار می گردد که گفته می شود حوادث و رخداد های افغانستان در رسانه های پاکستانی به صورت گسترده تحت پوشش قرار نمی گيرد اما شماری از رسانه های افغانستان با داشتن خبرنگار در پاکستان به طور زنده رويداد های آن کشور را منعکس می سازند.

شميم شاهد نماينده رسانه های پاکستان در صحبت با راديو آزادی گفت که تلاش می کنند در آينده پوشش بيشتر از مسايل وابسته به افغانستان داشته باشند. وی افزود: "حرف شما درست است، هرگاه رابطه ميان مردم دو کشور بيشتر شود و آزادانه رفت و آمد نمايند، گفته می توانم که آن زمان قسمی که واقعات پشاور را تحت پوشش قرار می دهم، مشکلات مردم ولايات کنر و ننگرهار افغانستان را نيز به نوشته در می آورم. اکنون وضعيت دگرگون است، سو تفاهم ميان دو کشور موجود بوده و برخی مشکلات است، لازم است که ما و شما آن را حل کنيم."

با آنکه برخی آگاهان به اين باور اند که رسانه های افغانستان و پاکستان می توانند با نشر و انعکاس آنچه در دو کشور رخد می دهد در برقراری صلح و ثبات کمک کنند اما به اساس گزارش ها مطبوعات پاکستان از آزادی کامل برخوردار نبوده و به اين اساس نمی توانند با دست باز فعاليت کنند.

په نشو اخته ماشومان په ...

لري، چې نوموړی هم د نشو په مرسته پرېباسي.

کله چې يې خوښې غواړي خپل دردونه کرار کړي، ترياک خوري.

عزيزې ويلي: کله چې مو ماشومان ناکراري کوي او ژاړي، لږ ترياک ورکوو.

تر اوسه پورې په نشو د اخته ماشومانو دقيق شمېر نه دی معلوم. خو په افغانستان کې د نشه يانو د تداوۍ لپاره امکانات کم دي.

راپورونه وايي په افغانستان کې شا و خوا ۱ مليون خلک اپيم کاروي.

په شمال کې د نشه يانو د تداوۍ د يوه مرکز تنظيمونکي ډاکټر محمد داود وويل: خلک له اپيمو څخه د درمل په توگه کار اخلي، کله چې ماشوم ژاړي خلک اپيم ورکوي.

ترکيب پارلمان جديد افغانستان ...

اين تحقيق نشان مي دهد که عامل قوميت تاثير عميقي بر نتيجه انتخابات داشته ، "هزاره‌ها" بيشتر از ساير اقوام در اين انتخابات شرکت داشته اند.

بر اساس اين گزارش، حضور نمايندگان هزاره در پارلمان افزايش يافته در حالي که نمايندگان پشتون کاهش يافته اند. اين بررسي نشان مي دهد که چهار کرسي را "حزب پيوند ملي افغانستان" به رهبري "سيد منصور نادری" و ۴ کرسی ديگر را احزاب چپ که مربوط به جريان های کمونيستی هستند به خود اخصاص داده اند.

حزب "حزب افغان ملت" فقط توانسته است که ۲ عضو در پارلمان داشته باشد. در اين گزارش آمده است که پشتون‌ها ۹۶، تاجک‌ها ۵۳، هزاره‌ها ۶۱، ازبک ها ۱۵، ايماق‌ها هشت عضو در ترکيب پارلمان جديد دارند. پارلمان افغانستان ۲۴۹ عضو دارد و قرار است دومين پارلمان افغانستان امروز چهارشنبه افتتاح شود.

امريکايي پوځيانو کې ځان ...

نه لري چې په رسنيو کې يې خپاره کړي.

د دفاع وزارت هغه ځان وژنې نه دي ثبت کړي، چې عسکرو په افغانستان او عراق کې د وظيفو تر پرېښودو وروسته ځانونه وژلي.

ويل کېږي چې اکثره عسکر په دغو هېوادونو کې د جگړې په صحنو کې په ذهني لحاظ ځپل شوي او په روحي ناروغيو اخته شوي، چې د تحمل ځواک له لاسه ورکوي او ځانوژنې ته مخه کوي.

په عامو امريکايانو کې هم ځانوژنه زياته ده. په ۲۰۰۷م کال کې په ټوله امريکا کې ۳۴زره او شپږسوه کسانو ځانونه وژلي وو.پوري درو لکو ته ورسېږي.

دوی له شاوخوا پنځه ويشت زره ياغيانو سره مخامخ دي.